بسم الله الرحمن الرحیم

# د بشري حقونو نړيواله اعلاميه

د1948 زيږديز كال د ډسمبر د لسمې
مصوب
(1327/9/19 لمريز كال)
دملګرومللتونو دسازمان عمومي ټولنه

# سریزه :

څرنګه چې دبشري کورنۍ دټولو غړو د ذاتي کرامت او د دوي د برابرو او نه بېلیدونکو حقونو پیژندل په نړي کې د سولې، آزادۍ او عدالت بنیاد جوړوي؛
څرنګه چې د بشري حقونو له پامه غورځول او دهغوي سپکاوي دداسي ناوړه او وحشیانه اعمالو لامل ګرځې چې دانساني وجدان بېحرمتي ګنل کیږي او هغې نړي ته رسیدنه چې انسانان په کې بې له ویرې اونیستي وکړاي شي دبیان او عقیدې له آزادۍ ګټه واخلي، دبشر دخوړالوړو ارمانونو په څیر اعلام شوي دي؛
څرنګه چې د ظلم او جبر په مقابل کې د وروستۍ وسیلې یعني بغاوت کولو څخه د انسان د ژغورلو لپاره دبشري حقونو ساتل د قانوني حاکمیت په مټ اړین شمېرل شوي؛
څرنګه چې د ملتونو په منځ کې د دوستانه اړیکو د ودې هڅول او پراخول ضروري دي؛
څرنګه چې خلکو او ملګرو ملتونو د همدې سازمان په منشور کې د بشر د بنیادي حقونو، دانسان پر کرامت او ارزښت او دښځې او نارینه د برابرو حقونو په اړه خپل باور بیا تایید کړی او پریکړه یې کړې ده، چې ټولنیزې ترقي او د ژوند غوره معیارونو ته په پراخه آزادۍ کې وده ورکوي؛
څرنګه چې دملګرو ملتونو غړیو هېوادونو ژمنه کړې ده چېددې سازمان په همکاري به په نړیواله کچه، بشري حقونو او بنیادي آزادیو ته په درنښت او دهغو په څارنه کې زیاتوالي راولي؛
څرنګه چې ددې حقونو او آزادیو په وړاندې ګډ پوهاوي او پوهېدل ددې ژمنې دترسره کولو لپاره دډېر زیات اهمیت لرونکي دي؛
نو ځکه اوس دملګروملتونو عمومي ټولنې (اسمبلې) دبشري حقونو دغه نړیواله اعلامیه خلکو او ملکونو لپاره دبریالیتوب دیوه ګډ معیار په توګه له دې هدف سره اعلاموي؛ چې هر فرد او دټولنې هر غړی په پرله پسې ډول ددې اعلامیې په پام کې نیولو سره باید دښوونې، روزنې او زده کړې له لارې هڅه وکړي، چې دغو آزادیو او حقونو ته دې درناوي وده وکړي او د تدریجي او مترقي اقداماتو په مټ، ملي وي او که نړیوال، دهغې دبشپړه او اغیز ناکه پیژندنه او څارنه هم پخپله دغړیو هیوادونو دخلکو او هم د

هغو سیمو دخلکو په منځ کې تامین او تضمین کړي، چې د دوي دقانوني صلاحیت په حدودوکې اوسي.

## لومړي ماده

ټول انسانان آزاد پیدا کیږي او یو ډول حقونه، عزت او کرامت لري. انسانان په عقل او وجدان سمبال شوي او باید یو له بل سره د ورور ګلوۍ په روحیه چلند وکړي.

## دویمه ماده

هرڅوک پرته له دې چې هر ډول توپیر څخه لکه نژاد، رنګ، جنس، ژبه، دین، سیاسي یا بله نظریه، ملي یا اجتماعي منشا، دارایي، د زیږیدني یا بل موقف په نظر کې ونیول سره، دټولو هغو حقونو مستحق دي، چې په دي اعلامیه کې راغلي دي.

## دریمه ماده

هر څوک د ژوند آزادۍ او ځاني خوندیتوب حق لري

## څلورمه ماده

هیڅ څوک په مریتوب یا د غلام په حیث نه شي ساتل کیداي، مریتوب او دغلامانو پیرودل او پلورل باید په ټولو بڼو کې منع شي.

## پنځمه ماده

هیڅ څوک باید شکنجه نشي، او نه په ظالمانه او ناانساني توګه سپک شي او یا سزا ووینی.

## شپږمه ماده

هر څوک حق لري، هر چیرته چې وي، دهغه حقوقي شخصیت د قانون په وړاندې دیوه انسان په څیر وپیژندل شي.

## اوومه ماده

ټول خلک دقانون په وړاندې يو برابر دي او ددې حق لري، چې دهر ډول تبعيض نه پرته په برابره توګه د قانوني ملاتړ مستحق وي، دوې حق لري چې د هرهغه تبعيض په وړاندې چې اعلاميه نقضوي او يا دهغې لمسونې په مقابل کې چې داسې تبعيض ته لمن وهي په برابره توګه وساتل شي.

## اتمه ماده

که دهرچا په اساسي حقونو، چې د اساسي قانون يا دکوم بل قانون لخوا پيژندل شوي وي، تيري وشي، دي حق لري، چې دصلاحيت لرونکو ملي محکمو په مټ دتلف شويو حقونو موثره تلافي ترلاسه کړي.

## نهمه ماده

هيڅ څوک په خپلسر توقيف، بندي يا تبعيد کيداي نشي.

## لسمه ماده

هرڅوک په مساويانه ډول حق لري، چې دعوه يې ديوې بې طرفي او مستقلې محکمې لخوا په ښکاره او منصفانه توګه ترغور لاندې ونيول شي او دغه شان محکمه به د ده په حقونو او وجايبو او هغه الزام په باره کې پريکړه کوي، چې په ده لګول شوي وي.

## يوولسمه ماده

1. په جرم تورن شوي هر فرد حق لري تر هغوي بې ګناه وګڼل شي، چې جرم يې په داسي يوه ښکاره محاکمه کې ثابت شوي نه وي، چې تورن پکي دخپل دفاع لپاره ټول ضروري او رسمي تضمينونه، ونلري.
2. هيڅ څوک د داسې اعمالو ترسره کولو يا نه کولو په وجه محکوم کيداي نشي، چې د اجرا کيدلو په وخت کې د ملي يا نړيوال قانون له مخې جرم نه شميرل کيده، دغه راز هيڅ څوک ديوه جرم دکولو

له امله، له هغه سخته سزا نه وینې، چې دجرم د اجرا کیدو په وخت کې دهغه جرم لپاره تعیین شوي وي.

## دولسمه ماده

هیڅوک دچا په محرمیت، کورنۍ، کور یا لیکونو کې دخپلسري مداخلې حق نلري او نه یې پر نوم او حیثیت تعرض کیداي شي. هر څوک ددې ډول حملو یا مداخلې په مقابل کې دقانوني ملاتړ حق لري.

## دیارلسمه ماده

1. هر څوک حق لري چې دهرهیواد په دننه کې ازادانه تګ او راتګ وکړي او د استوګنې ځاي انتخاب کړي.
2. هرڅوک حق لري، چې دخپل هېواد په ګډون هر هېواد پریږدي او یا خپل هېواد ته راستون شي.

## څوار لسمه ماده

1. هر څوک حق لري، چې دځورونې او تعقیب په وړاندې په نورو ملکونو کې دپناه په لټه کې شي او په نورو هیوادونو کې پناه واخلي.
2. له دغه حق څخه په هغه وخت کې ګټه نه شي اخیستل کیداي، که چیرې تعقیب دغیر سیاسي جرم او یا دداسي اعمالو د ترسره کولو له امله وي چې دملګرو ملتونو له موخو او اصولو سره توپیر ولري.

## پنځلسمه ماده

1. هر څوک د تابعیت حق لري.
2. هیڅ څوک باید له خپل تابعیت څخه محروم نه شي او نه یې باید دا حق باطل شي، چې خپل تابعیت ته تغییر ورکړي.

## شپاړلسمه ماده

1. ټول بالغ نارینه او ښځینه له هیڅ ډول محدودیت پرته لکه نژاد، ملیت، تابعیت یا مذهب حق لري چې واده وکړي او کورنۍ تشکیل کړي. دوي ددواده کولو پر وخت او دهغه په فسخ کولو کې یو ډول حقونه لري.
2. واده یوازې په هغه وخت کې کیداي شي، چې ښځه او میړه دواړه خپله بشپړه خوښه او رضا څرګنده کړي.
3. کورنۍ دټولنې طبیعي او بنیادي واحد دي او حق لري چې د دولت او ټولنې لخوا یې ملاتړ وشي.

## اولسمه ماده:

1) هرڅوک په ځانګړې او یا ډله ییزه توګه د مالکیت حق لري.
2) هیڅوک باید په خپلسري ډول د مالکیت له حق څخه بې برخې نشي.

## اتلسمه ماده

هرڅوک دفکر، وجدان او مذهب دآزادۍ حق لري. په دې حق کې هغه آزادۍ شامله ده، چې خپل مذهب یا عقیدي ته تغییر ورکړي او دغه راز هغه آزادي، چې یوازي یا له نورو سره په ګډه، په ښکاره یا خصوصي ډول خپله عقیده یا مذهب په زړه، عمل، عبادت کولو او د دیني مراسمو په اجرا کولو کې څرګندۀ کړي، هم شاملیږي.

## نولسمه ماده

هر څوک دبیان او نظر دآزادې حق لري په دې حق کې هغه ازادي شامله ده، چې بې له ویرې څخه مفکورې او نظر یې ولري او په هر وسیله پرته له دې چې سر حدونه په پام کې ونیسي، عقاید او معلومات ویلټي، ترلاسه او خپاره یې کړي.

## شلمه ماده

1. هرڅوک حق لري، چې په آزاد ډول سوله ييزې اتحاديې او ډلې جوړې کړي.
2. هيڅوک بايد په دې مجبور نه شي، چې په کومې ډلې پورې وتړل شي.

## يوويشتمه ماده

1. هر څوک حق لري، چې په مستقيمه يا په آزاد ډول د ټاکل شويو استازو په مټ د خپل هيواد په حکومتي چارو کې برخه واخلي.
2. هرڅوک حق لري، چې په برابره توګه په خپل ملک کې له عامه خدمتونو څخه ګټه واخلي.
3. دخلکو اراده بايد دحکومت د واک بنياد جوړ کړي، دغه اراده بايد په نوبتي ډول په رښتينو انتخاباتو کې څرګنده شي. انتخابات بايد درايې ورکولو د عمومي او برابر حق له مخې وشي او بايد چې د پټې رايې ورکولو او يا د رايې ورکولو د برابري او آزادې طريقي سره سم تر سره شي.

## دوه ويشتمه ماده

هرڅوک د ټولني ديوه غړي په توګه حق لري، چې ټولنيز امنيت ولري، او دملي هڅو او نړيوالي همکاري له لاري د هر دولت د سازمان او منابعو سره سم هغه اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقونه تر لاسه کړي، چې د ده د حيثيت او شخصيت د آزادې ودې لپاره اړين وي.

## درويشتمه ماده

1. هر څوک حق لري، چې کار وکړي، په آزاد ډول دځان لپاره کار انتخاب کړي، د کار مناسب او عادلانه شرايط ولري او دوزګارتيا په وړاندې يې ملاتړ او ساتنه وشي.
2. هرڅوک بې له کوم تبعيض پرته حق لري، چې د برابر کار په مقابل کې برابره اجوره واخلي.

3. هرڅوک چې کار کوي، د مناسب معاش حق لري، چې دده او دده دکورنۍ لپاره د بشري کرامت وړ ژوند تضمینوي او که ضروري وي حق لري، چې د نورو ټولنیزو محافظتي وسایلو په مټ پیاوړي شي.
4. هر څوک حق لري، چې د خپلو ګټو د ساتلو په غرض صنفي اتحادیې جوړي کړي او له هغو سره یو ځاي شي.

## څلیرویشتمه ماده

هر څوک د کار د ساعتونو د مناسب محدودیت او د با معاشه نوبتي رخصتیو په شمول حق لري، چې استراحت او تفریح وکړي.

## پنځه ویشتمه ماده

1. هرڅوک حق لري چې دځان او دکورنې دژوند کچه د سلامتیا او سوکالۍ، خواړو، کور، روغتیایي څارنو او ټولنیزو اړینو خدمتونو له پلوه تامین کړي او همدارنګه حق لري چې دوزګارتیا، ناروغي، معلولیت، کونډیتوب، زړښت او په ټولو هغه مواردو چې د انسان له ارادي بهر دي، دژوند معیشت تامین نشي کړاي،باید دپتمن ژوند له شرایطو برخمن شي.
2. میندې او ماشومان د ځانګړي پاملرنې او مرستي مستحق دي. ټول ماشومان که دنکاح په واسطه او یا بې نکاح پیدا شوي وي دمساوي ټولنیز خوندیتوب حق لري.

## شپږویشتمه ماده

1. هرڅوک دښوونې، روزنې حق لري، ښوونه، روزنه باید لږترلږه په لومړنیو او اساسي زده کړو کې وړیاوي. لومړنې زده کړې باید اجباري وي، تخنیکي او مسلکي زده کړي باید عمومیت وموومي او لوړې زده کړې باید دټولو پرمخ د استعداد او لیاقت پر اساس خلاصي وي.

2. ښونه، روزنه باید د انساني شخصیت دبشپړي ودي او بشري حقونو او اساسي ازادیو ته د احترام د زیاتوالي په لوري سوق شي. ښوونه، روزنه باید دټولو ملیتونو، نژادونو او دیني ډلو په منځ کې تفاهم، زغم او دوستي پیاوړي کړي او دملګروملتونو هڅې دسولي دساتنې او پیاوړتیا لپاره غښتلې کړي.
3. میندي او پلرونه د لومړیتوب حق لري. چې د ښوونې، روزني هغه ډول انتخاب کړي، چې د دوي ماشومانو ته باید ورکړل شي.

## اوه ویشتمه ماده

1. هرڅوک حق لري په آزاده توګه دخپلې ټولني په کلتوري فعالیتونو کې برخه واخلي. له هنرونو څخه کټه پورته کړي او په علمي پرمختګ کې شریک او له ګټو څخه یې برخمن شي.
2. هرڅوک دخپلو هغو معنوي او مادي ګټو د ملاتړ حق لري، چې دده په مټ له هر علمي، فرهنګي او یا هنري تخلیق څخه رامنځته شوې وي.

## اته ویشتمه ماده

هرڅوک حق لري په داسي یو ټولنیز او نړیوال نظم کې ژوند وکړي، چې په دې اعلامیه کې بیان شوي او حقونه او آزادي یې په بشپړ ډول عملي شي.

## نهه ویشتمه ماده

1. هرڅوک د هغي ټولني په وړاندې دندې او مکلفیتونه لري، چې دهغه د آزادي ودې او بشپړ شخصیت زمینه ورته چمتو کوي.
2. هرڅوک باید د خپلو حقونو او آزادیو په عملي کولو کې یوازې دهغو محدویتونو تابع وي، چې دقانون پر بنسټ ددې لپاره تعیین شوي وي، چې دنورو د آزادیو او حقونو ته په مناسب ډول احترام وشي او وپیژندل شي او په یوه دیموکراتیکه ټولنه کې د اخلاقي موازینو د مقتضیاتو، عامه نظم او هوسایني مراعات وشي.

3. دغه حقونه او آزادي باید په هیڅ صورت دملګروملتونو د اصولو او موضو پر خلاف عملي نه شي.

## دیرشمه ماده

په دې اعلامیه کې هیڅ یوه فقره یا ماده باید داسي تعبیر نه شي، چې کوم دولت، ډلې یا شخص ته ددې حق ورکړي چې په داسي فعالیت لاس پوري کړي یا داسي کار اجرا کړي چې هدف یې، په دې اعلامیه کې د ذکر شویو حقونو او آزادیو له منځه وړل وي.

# د بشري حقونو اسلامي اعلامیه

## د 1411 سپوږمیږ کال د محرم د دولسمې مصوب
## د 1990 زیږ دیزکال داگست پنځلسمه، د 1365 لمریزکال د زمري پنځلسمه
## په قاهره کې د اسلامي کنفرانس سازمان د غړو هیوادونو د بهرنیو چارودوزیرانو غونډه

(یا ایالناس انا خلقنا کم من ذکرو انثی و جعلنا کم شعوربا و قبائل لتعارفو ان اکرمکم عندالله اتقاکم)

قران کریم

د اسلامي کنفرانس سازمان غړي هيوادونه په الله باندې په ايمان لرلوچې د نړيوالو پروردګار، د کايناتو هستوونکې او د نعمتو نو بښونکی دی، هغه لوی ذات چې انسان يې په غوره توګه هست او هغه ته يې حيثيت ورکړ او پرځمکه يې خپل خليفه وګرځاوه، هغه څښتن تعالی چې د ځمکی دهر سمون او آبادئ مسووليت يې د بشر په غاړه کيښود او امانت (الهی تکاليف) يې د هغه په اوږوکيښو د او ټول هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې شته دهغه ترولکې لاندې راوستل او په دغه تصديق سره چې د حضرت محمد (ص) رسالت چې لوی الله در ښتني دين دلارښوونو سره راليږلی او هغه يې د نړيوالو لپاره رحمت، د مريانو لپاره ژغورونکې او د زورواکو او ظالمانو ټکوونکی ګرځولې دی. هغه پيغمبر چې برابري او مساوات يې د ټول بشريت ترمنځ اعلام کړ او يو پربل لوړتيا يې يوازی په تقوا کې وبلله، د خلکو ترمنځ يې چې څښتن تعالی هغوې له يوه روح سره هست کړيدي، واټنونه اوکرکې له منځه يووړې.

د توحيد نړه عقيدې ته په پام سره چې د اسلام بنسټيزجوړښت دې، هغه عقيده چې بشريت دی ته راوبولي چې پرته د الله(ج) څخه د بل چاعبادت ونکړي او له هغه سره شريک ونه مني او پرته له الله (ج) په هيڅوک په خدايي ونه مني، هغه عقيده چې د بشري کرامت او مسوولانه ازادی رښتنې بنسټ يې کيښود او له مريتوب څخه يې د انسان ازادي اعلان کړه.

د هغه څه د تحقق لپاره چې په اسلامي تلپاتي شريعت کې راغلي او له هغه شميرې څخه ددين، ځان، عقل، ناموس، مال، نسل او نور امتيازونه لکه پراخوالی او ميځلاريتوب په ټولو احکامو او چاروکې. شريعت دمعنويت او ماديت سره يوځای او عقل اوزړه سره همغږي کړ او د حقونو او دندو ترمنځ يې انډول رامنځته کړ او د قسط معياريې د دوواړخونو ترمنځ ټينګ کړچې له ټاکلی بريده نه څوک تيری وکړي او نه زيانمن شي.

د تمدن په پرمختګ کې د اسلامي امت دتاريخي برخې په ټينګارسره (هغه امت چې الله پاک غوره امت وبللو) چې يو همرنګه تمدن نړيوال بشريت ته وړاندې کړي،

هغه تمدن چې وتوانیږي نړۍ او اخرت سره و تړي او علم او ایمان ته پیوندورکړي. له همدی امله له داسی یو امت څخه دا هیله او انتظار کیږي چې دلاروركي بشریت په لارښوونه کې د متضادومسلكونو د سیالۍ پرڅپوقدم کېږدي او د مادي تمدن دستونزولپاره د حل لارې ولټوي.
په بشري هڅوکې د خپلې ونډې دپرځای کولو په اړه چې بشري حقونو سره تړاو لري، هغه حقوق چې موخه یې د زبېښاک (استثمار) او ظلم په وړاندې د بشریت ملاتړدی او په پتمن ژوندکې د هغه پرازادیو او حقونو ټینگار چې د اسلامي شریعت سره همغږي دي او په دې باور چې بشریت دمادي پوهې په لوړو پوړیو کې دی او په پرله پسی توگه اړتیا لري چې د تمدن او حقونو د ملاتړ او ساتنې لپاره یو ایماني تکیه ځای ولري. په دې باور سره چې بنسټیز حقونه او ټولیزی ازادۍ په اسلام کې د مسلمانانو د دین توکونه دي نو هیڅوک حق نلري چې په اصولي توگه الهی احکام په ټولیزه یا جزیي توگه ترپښولاندې او یا سترگې پرې پټې کړي او هغه الهی احکام او تکالیف چې څښتن تعالی د خپلو کتابونو له لارې نازل کړي او خاتم د پیغمبرانو یې رالیږلی او دهغه په وسیلهیې آسماني رسالت پای ته ورساوه نو دهمدې امله دهغو مراعاتول عبادت دی او په هغه کې لټی او یا تیری د منکر په مانادې او هر انسان په ځاني توگه د هغه د اجرا او ساتنې مسوولیت لري او امت په (ټولیزه) توگه د هغې په وړاندې مسوولیت لري. د همدې موخې لپاره، د اسلامي هیوادونو د اسلامي کنفرانس غړي دولتونه دا لاندینې مواد اعلاموي:

## لومړی ماده:

الف: بشر په ټولیزه توگه یوه کورنۍ ده چې لوی خدای ته بندگي او آدم ته یې د فرزندۍ نسبت هغوی سره یو ځای کړي او ټول خلک د انساني شرافت، تکلیف او مسوولیت په اصل سره، د هرډول توکمیز (نژادي) رنگ، ژبې، جنسیت، دیني باور یا سیاسی

تړاو، ټولنیزې وضعې ... له توپیر پرته، یو برابر دي.
همدارنګه سمه او سوچه عقیده د شرافت دودی لپاره هغه یوازنی تضمین دې چې د انساني تکامل له لارې لاسته راځي.
ب: ټول مخلوقات د څښتن تعالی د کورنی په مانادي او د خداې په نزد غوره هغه څوک دي د چې خپل همنوع ته ګټه رسونکې وي او هیڅوک پر بل لوړتیا نلري مګر په تقوا اوغوره چاروسره.

## دویمه ماده:

الف: ژوند یوه الهی ډالی ده او هغه حق دی چې هر انسان ته تضمین شویدی او پرټولو خلکو، ټولنواو حکومتونو واجب ده چې له دغه حقونو ملاتړوکړي، د هرډول تیري په وړاندې ودریږي او د شرعي مجوز پرته د هیچا وژنه روانه ده.
ب: د هغې وسیلی کارونه چې په ټولیزه او یا جزیی توګه د بشریت د سرچینی له منځه وړلو لامل شي، منع دي.
ج: دبشریت ژوند دپایښت ساتنه ترڅوچې د خدای (ج) پیززوینه وي شرعي دنده ده.
د: دانسان دجنازې درناوې باید وشي، هغې ته نه درناوې روا نه دې، آن دهغه لمسول روا نه دي، مګردشرعي مجوز له لارى، له دغه امرڅخه ملاتړ د دولت دنده ده.

## دریمه ماده:

الف: په وسلوالو شخړو او نښتو کې نه ښايي هغه کسان چې په کې ګډون نلري لکه بوډا نارینه، ښځی او کوچنیان ووژل شي، هرټپي او ناروغه د درملنې، یرغمل او اسیران د خوړو، جامو او سرسیوري حق لري، دوژل شویو مثله کول منع دي، یرغمل او اسیران باید تبادله شي، هغه کورنی چې د جګړې له امله سره بیلی شویدی باید سره لیدنې کتنې وکړي.
ب: د دښمینو له امله د بمباریو او راکټي بریدونو په مټ دونو پریکول، کرنې او مالدارى له منځه وړل یا دملکي تاسیساتو او ودانیو ویجاړول روا نه دي.

## څلورمه ماده:

هر انسان حرمت لري او کولای شي پخپل ژوند یا وروسته له مرگه د هغه ساتنه وشي. دولت او ټولنه موظفه ده چې د هغه دتن او مدفن څخه ساتنه وکړي.

## پنځمه ماده:

الف: کورنۍ د ټولنې د جوړښت بنسټ دې او واده د کورنۍ د جوړښت اساس دی. له همدې امله ښځې او نارینه دواده حق لري او هیڅ ډول بندیز چې پرتوکم، رنگ یا قومیت ولاړ وي نشي کولای ددې حق مخه ډب کړي.
ب: دولت او ټولنه موظفه ده چې دواده په وړاندې خنډونه لیرې کړي، د هغې لارې چارې اسانه او له کورنۍ څخه ملاتړوکړي.

## شپږمه ماده:

الف: د انسانی حیثیت له پلوه ښځه او نارینه سره برابردي او په هماغه کچه چې ښځه دندې لري په هماغه کچه حقونه همه لري او د مدني شخصیت لرونکی، د خپلواکی مالي ذمی او د خپل نوم او نسب د ساتنې حق لري.
ب: د کورنۍ د نفقی تامین او د ساتنې مسوولیت د نارینه په غاړه دې.

## اوومه ماده:

الف: هرکوچنې د زیږدنې له نیټې نه پر خپل پلاراومور، دولت او ټولنې حق لري چې د کوچنیتوب په دوران کې د هغه ساتنه، روزنه، روغتیا او پالنې ته ځانگړې پاملرنه وشي.
همدارنگه د مور او جنین د ساتنې په اړه باید ځانگړې پاملرنه وشي.
ب: پلرونه او هغه کسان چې د شرعي قانون له مخې د پلارځای لري، دا حق لري چې د خپلو بچیانو د گټو او راتلونکی په پام کې نیولوسره د شرعي احکامو او اخلاقي ارزښتونو په رڼاکې د هغوې د روزنې ډول و ټاکي.

ج: د شرعي احکامو سره سم، اولادونه او بچیان د مور اوپلار او قومونه د خپلونورو قومونو په وړاندې یولړ حقونه په غاړه لري.

## اتمه ماده:

هر انسان دالزام او التزام له پلوه د یوه شرعي شخصیت لرونکی دی، که چیرې دا شخصیت له منځه لاړشي او یا کمزوری شي، قیم یا سرپرست د هغه ځای نیسي.

## نهمه ماده:

الف: د علم زده کړه یوه فریضه ده او ښوونه پردولت او ټولنه یوواجب امردی، پردولت لازمه ده چې لارې چارې او وسایل یې تامین کړي او دهغه تنوع په داسې توګه ترسره کړي چې د ټولنې مصلحت ته ځواب ووایي او انسان ته دا فرصت ورکړي چې د اسلام د دین او دهستۍ د حقایقو په اړه پوهه ترلاسه او هغه د بشریت د ښیګڼو لپاره وکاروي.
ب: هر انسان حق لري چې ورته، بیلابیلې روزنیزې موسسې د کورنۍ، ښوونځي او پوهنتون څخه نیولې تر تبلیغاتي دستګاوو او نورو چې د انسان په دیني اودنیوي روزنه کې هڅه کوي، د هغه د بشپړې او انډولیزې روزنې په کار کې ګټورې وي او شخصیت ته یې داسې وده ورکړي چې په لوی خدای یې ایمان او حقونو او دندوته یې درناوې پیاوړی شي، چمتو شي.

## لسمه ماده:

اسلام فطري دین دې، د انسان په وړاندې د هرډول زور او فشارڅخه کار اخیستنه یا د انسان بیوزلۍ او ناپوهۍ څخه په دې موخه ګټه اخیستنه چې بل دین او یا الحاد ته مخه کړي روا نه دي.

## یوولسمه ماده:

الف: انسان ازاد زیږیدلی او هیڅوک د هغه د مریتوب، ذلت، سپکاوي، ناوړه ګټې اخیستنې یابندګی ته داړولو حق نلري مګر الله تعالی.
ب: ښکیلاک (استعمار) په هرډول چې وي د خپل اعتبار له مخې د مریتوب ناوړه بڼه ده. چې په کلکه سره

منع دی او هغه ملتونو چې له هغه څخه کړیږي حق لري له شکیل څخه خلاصون وومومي او خپل برخلیک وټاکي، ټول دولتونه او ملتونه موظف دي چې له دغې ډلې څخه د هر ډول شکیلاک او یرغمل دله منځه وړلوپه مبارزه کې مرسته وکړي. ټول ملتونه ددې حق لري چې خپل خپلواک شخصیت وساتي او پرخپلو طبیعي شتمینو او سرچینو واکمن وي.

## دولسمه ماده:

هرانسان د شریعت سره سم د هیواد په دننه یا بهر کې داستوګنځي د غوره کولو او یا لېږدحق لري او کله چې د ظلم او ستم لاندې راشي کولاې شي بل هیواد ته پناه یوسي. او پرپناه وروړنکي هیواد واجب ده چې له هغه سره مرسته وکړي او سرسیوری ورته چمتو کړي، په دې شرط سره چې د هغه د پناه وړلولامل، د شرع له نظره په کوم جرم ککړتیانه وي.

## دیارلسمه ماده:

کار هغه حق دې چې دولت او ټولنه یې هرهغه چاته تضمین کړي چې د کارکولو توان ولري، هر انسان د غوره کار د انتخاب ازادنه حق لري چې د ځان اوهم د ټولنې په ګټه او مصلحت وي.
هرکارګر حق لري چې د ټولنیزو تامیناتو، روغتیا او امنیت څخه برخمن وي او نه شایې په داسې کاروګمارل شي چې توان یې نلري او په زور داسې کارته اړشي چې ناوړه ګټه ترې واخیستل شي او یا زیان ورته ورسیږي. هر کارګر پرته له دې چې نارینه یا ښځینه ده د سرته رسولي کار په بدل کې عادلانه اجوره، په چټکتیا سره ترلاسه کړي؛ همدارنګه د استحقاق له مخې د رخصتیو، ډالیو او ترفیعګانو څخه د ګټې اخیستلو حق لري او د خپلې دندې په اجرا کې موظف دې چې پخپل کارکې صداقت او رښتینوالی ولري. که چیری د کارګرانو او د کاردخاوندانو ترمنځ اختلاف رامنځته شي، دولت موظف دې چې ددغه اختلاف د له منځه وړلو لپاره په داسې توګه لاسوهنه وکړي چې ظلم له منځه لاړشي او حق

تامین شي؛ پرته له دې چې لاسوهنه یې د یوه خواپه ګټه و څرخیږي.

## څوارلسمه ماده:

انسان حق لري شتمنیي لاسته راوړي پرته له احتکار، تیرایستنی او یا ځان او نوروته په زیان رسولو سره، سود په کلکه ناروا دې.

## پنځلسمه ماده:

الف: هر انسان د شرعي لاروڅخه د مالکیت حق لري او کولای شي د مالکیت له حق څخه داسی برخمن شي چې ځان، نورو اوټولنې ته زیان و نه رسیږي، نشي کولاې د نورو مالکیت سلب کړي مګر د ټولنیزوګټو داړتیاوو دساتنې له مخې او د عادلانه او چټک جبران په بدل کې.
ب: دشتمینو مصادره او ضبطول منع دي مګر د شرعي احکام له مخې (قانون)

## شپاړسمه ماده:

هر انسان حق لري چې د خپلو علمي، ادبي، هنري او تکنالوژیکي بریاووڅخه ګټه واخلي او له هغه نه ترلاسه شوي مالي او ادبی ثمری څخه ملاتړوکړي، خو په دې شرط چې هغه بریا د شریعت له احکامو سره توپیر ونلري.

## اوولسمه ماده:

الف: هر انسان حق لري چې د ناروغیو او فسادونو څخه په یوه پاک چاپیریال کې په داسې بڼه ژوندوکړي چې وتوانیږي ځان د معنویت له پلوه سمبال کړي. ټولنه او دولت اړدي چې د هغه لپاره دا ډول حق چمتو کړي.
ب: دولت او ټولنه موظفه ده چې د اړتیا وودلیږې کولو د ټولیزو مرکزونو له لارې د هروګړي لپاره د ټولنیزې روغتیا زمینه د شتو شونتیا وول مخې چمتو کړي.

ج: دولت مکلف دې د هر انسان حق، د پتمن ژوند له لارې چې دده او د کورنۍ ټولی اړتیا ووې یې بشپړې کړي او دغه اړتیا وې د خوړو، جامو، استوګنځي، ښوونې، روغتیا او نورو بنسټیزو اړتیاوو په ګډون دي، تضمین کړي.

## اتلسمه ماده:

الف: هر انسان حق لري چې د خپل ځان، دین، کورنۍ، شتمنۍ او ناموس له پلوه په هوساینه کې ژوندوکړي.
ب: هر انسان حق لري چې پخپل خصوصی ژوند کې (په کور، کورنۍ، شتمنیی او اړیکو کې) خپلواکي ولري، دهغه په اړه جاسوسي، څارنه او دهغه د حیثیت او عزت سپکاوی روانه دې، ددغه ډول زور زیاتیو په وړاندې باید له هغه څخه ملاتړوشي.
ج: استوګنځې په هر حالت کې حرمت لري او د اوسیدونکو له اجازې پرته، هیڅوک په ناقانونه توګه ننوتلای نشي، نه ښایي هغه ویجاړ یا مصادره شي او یا یې او سیدونکې بې ځایه شي.

## نولسمه ماده:

الف: ټول خلک د شرع په وړاندې مساوي دي او په دغه امرکې حاکم او محکوم دواړه سره برابردي.
ب: محکمی ته ورتګ او پناه وړل هغه حق دې چې د ټولو لپاره تضمین شویدې.
ج: په اصل کې مسوولیت شخصي دی.
د: هیڅ ډول جرم او جزا نشته مګر د شریعت د حکمونو له مخې.
ه: تورن بې ګناه دی، ترهغه چې د عادلانه محاکمی له لارې یې تور، د هغه د دفاع د حق د تضمینو نو سره، په زبادونه ورسیږي.

## شلمه ماده:

د هیڅ انسان نیول، د هغه د ازادیو محدودول، شړل او سزاوی روانه دي مګر د شرع د غوښتنې له مخې،نه ښایي هغه ته جسماني او روحي ځورونه ورکړشي او یا په داسی ډول ورسره چلند وشي چې د انساني پت سره

په تضاد کې وي. همدارنګه په جبری توګه هیڅوک د علمي او روغتیا يي ازموينو لاندې نيول کيدای نشي، مګر په خپله خوښه او په دې شرط چې د هغه ژوند او روغتياته ګواښ پيښ نکړي، په همدې ډول د هغه استثنايي قوانينو تدوين چې اجرائيه ځواک ته ددې کار اجازه ورکړي، جايزنه دي.

## يوويشتمه ماده:

يرغمل نيونه په هره بڼه او د هرې موخې لپاره چې وي، منع ده.

## دوويشتمه ماده:

الف: هر انسان حق لري خپل نظر او فکر په هره بڼه چې وي، خو د شرعی اصولو خلاف نه وي، په ازادنه توګه بيان کړي.
ب: هر انسان حق لري چې د خير شيګنې او د منکر څخه د مخنيوي لپاره د اسلامي شريعت د ضوابط سره سم بلنه ورکړي.
ج: تبليغات د ټولنې لپاره ژوندنۍ (حياتی) اړتياده، له هغو څخه ناوړه ګټه اخيستنه، ناوړه کارونه او د همدې لارې د انسانانو پر کرامت او مقدساتو تيری کول يا دهر هغه څه کارول چې د ارزښتونو د ګډوډۍ او دباورونو د زيانمنيدو لامل شي، منع دي.
د: د مذهبي او قومي احساساتو پارول يا هغه څه چې د هر ډول توکميز توپير د پارونې لامل شي، روانه دي.

## درويشتمه ماده:

الف: ولايت هغه امانت دې چې دهغې لارې استبداد او ناوړه ګټه اخيستنه په کلکه سره منع ده، ځکه چې بنسټيز حقونه له همدې لارې تضمينيږي.
ب: هرانسان حق لري چې د خپل هيواد د ټوليزو چارويه اداره کې نيغ په نيغه او يا نامستقيمه توګه ګډون وکړي، همدارنګه هغه کولای شي د شريعت د

حکمونو سره سم د تولیزو پستونو مسوولیت په غاړه واخلي.

## ثلیرویشتمه ماده:

په دغه بندکې ټول راغلي حقونه او ازادۍ، د اسلامي شریعت د حکمونو سره د سمون په شرط دي.

## پنځه ویشتمه ماده:

اسلامي شریعت، د دغې اعلامیې د هرې مادې د تفسیر او توضیح لپاره یوازنۍ سرچینه ده.